# د گوانتانامو
# د زندانیانو پیغام



www.nanafghan.com

## یادونه:

د دې رسالې په اړه څو خبرو ته د درنو لوستونکو توجه رااړوو:

- دا د هغه افغان بندي رښتونې قصه ده چې لاهور ته د شخصي کار لپاره تللی وو، پاکستاني پولیسو ونیولو، پیسې ئې ترې وغوښتې، ده ئې توان نه درلود، له سخت تعذیب او ځورولو وروسته ئې امریکایانو ته وسپارو، هغوی هم د ده په وهلو او تعذیب سترې شول، بګرام او بیا ئې ګوانتانامو ته انتقال کړ، دېرش میاشتې پرې تېرې شوې، په دې دوران کې ئې ډېر څه ولیدل او واورېدل، او ډېر د پردې شا ته حقایق ورته څرګند شول، چې هغه په دې رسالې کې لوستلی شئ.
- دا تر ټولو لومړی کتاب دئ چې د ګوانتانامو د زندانیانو په اړه لیکل شوی، په دې اړه نور کتابونه تر دې وروسته لیکل شوي او ډېرو ئې له دې نه تقلید یا استفاده کړې.
- تر اوسه درې ځلې چاپ شوه، هر ځل چې بازار ته وتلې ډېر ژر پېرل شوې او د بیا چاپ ضرورت ئې احساس شوی.
- نوموړي بندي خپل خاطرات او د سترګو لیدلي واقعات ورور حکمتیار ته لیکلي او هغه د دې رسالې بڼه ورکړې.

بسم الله الرحمن الرحيم

# مسيحي ديموكراسي مې په گوانتانامو كې وليده

زما كورنۍ په پېښور كې اوسېږي، لاهور ته په يوه كار پسې تللی وم، د شپې ناوخته له يوه ملگري سره په ريكشه كې د يوه دوست كره تلم چې ناڅاپي د لاهور پوليسو ريكشه ودروله او پلټنې ئې پيل كړې، په دې ورځو كې هر د ږيرې او پگړۍ خاوند ته د شك په سترگه كتل كيدو، مخصوصاً چې هغه به پښتون وو، امريكا د تروريزم په ضد جنگ اعلان كړی وو، د نړۍ ټول هيوادونه ئې گواښل چې يا به د تروريزم په ضد روان جنگ كې د امريكا ترڅنگ ودرېږي او يا خو به ئې واشنگټن د تروريستانو ملگري گڼي، د مسلمانانو په نيولو كې پاكستان او ايران په خپلو كې سيالي كوله، نن به اسلام آباد اعلان وكړ چې تر اوسه ئې پنځه سوه تروريستان

نیولي او امریکایانو ته ئې سپارلي، سبا به له تهران نه دا اعلان تر غوږ شو چې مونږ تراوسه پنځه سوه پنځوس د القاعدې غړي نیولي او خپلو خپلو هیوادونو ته استولي، اوس نو په پاکستان کې هر د ږیرې خاوند مسلمان، تروریست ګڼل کیدو، د پاکستان حکومت غوښتل امریکایانو ته ثابته کړي چې په دې جنګ کې تر هرچا مخکې او په لومړۍ کرښې کې د تروریستانو په خلاف جنګیږي، د وزیرستان جګړو او په پرویز مشرف څو بریدونو خو دا جګړه مزید تونده کړه، په هر صورت موږ ئې تاڼې ته بوتلو او کرۍ شپه مو تروهلو ټکولو لاندې تیره کړه، سهار ئې په دې شرط د پریښودو وعده راکړه چې لس زره کلداري ورکړو، مونږ چې څه لرلې هغه ئې د نیولو په سر کې زمونږ له جیبونو وایستې، او اوس ئې نوري هم غوښتې، خو زموږ وس نه رسیدو، په لاهور کې مو داسې څوك نه پیژاندو چې له هغه ئې پور کړو، متوجه شوو چې دا پولیسان شیعه دي، کله مو داسې ګومان کاوو چې ښایي د مذهبي تعصب په وجه له مونږ سره دا زور زیاتی کوي او دومره مو ځوروي، دا ګومان مو هلته زیات شو چې پر مونږ ئې د سپاه صحابه تور ولګاوو، دا په داسې حال کې چې پوهیدل مونږ افغانان یو نه پاکستانیان، او د سپاه صحابه په تنظیم کې افغانان نشته، بیا مو له ځان سره ویل: دا ولې په افغانستان او عراق کې هم شیعه له امریکایانو سره د مسلمانانو په ضد ملګرې شوي او په پاکستان کې هم، د وزیرستان د مسلمان او مظلوم ولس په ضد د فوځي عملیاتو قومنده هم یوه شیعه جنرال ته سپارل شوې، او د FBI تر قومندې لاندې چې کوم

پاکستاني پولیس او کوماندو د مخالفینو د نیولو عملیات ترسره کوي، هغوی هم شیعه دي، دا څنګه په تیرو صلیبي جنګونو کي هم دوی له دښمن سره یو ځای شوي وو او اوس هم، آیا د دې وجه د دښمن زیرکتیا ده چي په هرځای کي اقلیت د اکثریت په ضد استخداموي او که د دغو سفاهت او ړوند تعصب چي د خپل ولس او خپل ورور په ضد له دښمن سره لاس یو کوي؟!! په هر صورت زمونږ دښمن بل دی، او دا خو هسې د هغه اصلي دښمن ذلیل خادمان دي. ما ورته وویل: زما اسناد وګورئ، زه افغان یم او له هیڅ پاکستاني تنظیم سره هیڅ اړیکي نلرم. هغوی راته مخ کړ او وئې ویل:ګ ښه نو ته حتماً د القاعده غړي ئې!! بیا ئې موږ د سی آی أی پولیسو ته حواله کړو، درې ورځې مو هلته تر سختو وهلو ټکولو لاندې تیرې کړې. خو هغوی نه پر مونږ کوم جرم ثابت کړی شو او نه ئې په وهلو ټکولو له کومې ډلې سره زمونږ اعتراف ترلاسه کړی شو، مونږ ئې بیرته همغې تانې ته ولېږلو، پولیسانو بیا هم د پیسو غوښتنه کوله او مونږ ئې پدې ډارولو چي که پیسي ورنه کړو نو فوځ ته مو حواله کوي، شل ورځې ئې تر راز راز تعذیبونو، ګواښونو او وهلو ټکولو لاندې وساتلو، دا خو لا څه کوئ چي هره ورځ به راتلل او زمونږ په مخکي او زموږ د مزید ځورولو لپاره به ئې صحابه کرامو ته ښکنځلې کولې. شل ورځې وروسته مو کتل چي یو تور جیپ راغی او له هغې څخه څو تنه چي ښې ږیرې ئې درلودې او ظاهراً متشرع او د کوم اسلامي تنظیم غړي معلومېدل راکوز شول، ورپسې څو کسه ټوپك والا هم راکښته شول، موږ چي دوی ولیدل او

دا راته معلومه شوه چې زموږ لپاره دلته راغلي نو ډیر خوشحاله شوو او گمان مو وکړ چې ښايي د کوم اسلامي تنظيم غړي به وي او زموږ د خلاصون لپاره به راغلي وي، کله چې هغوی زموږ خواته اشارې کولې او زموږ په رابطه ئې د پولیسانو سره خبرې کولې نو زما پوخ يقين شو چې همداسې به وي، او نور به زمونږ د زحمت شپې ورځې ختمې شوې وي، هغوی زموږ په طرف راغلل، خو له رسېدو سره سم ئې زموږ سترگې وتړلې او لاسونه ئې تر شاته راوتړل، بیا ئې همدې جيپ ته پورته کړو، لږ مزل وروسته ئې د یوه کوچني زندان په داسې اطاقونو کې واچولو چې تقریباً یو متر ئې عرض او یو نیم متر ئې اوږدوالی وو، ډیر گرم، نه ئې څراغ درلود او نه ئې بهر ته د رڼا او هوا د وتو ننوتو کومه چوله، تشناب ئې نه درلود، د ضرورت رفع کولو لپاره ئې یو سطل د اطاق په کونج کې کیښود، شپه مو تیره کړه، سبا تقریباً نهه یا لس بجې وې چې څلور کسان راغلل، زما سترگې ئې راوتړلې او لاسونو ته ئې ولچك راواچول او له دې ځایه ئې وباسولم، لږه شیبه وروسته ئې په یوه لوی اطاق کې زما سترگې راخلاصي کړې، په اطاق کې تقریباً لس کسان ناست وو، ټولو ږیرې درلودې او عامې شخصي جامې ئې اغوستې وې، داسې نه معلومېدل چې دوی به فوځیان وي، خو وروسته د دوی په هکله دوه خبرې راته معلومې شوې، یوه دا چې دوی د فوځ د استخباراتو غړي دي او دوهمه دا چې دوی هم شیعه گان دي. د دوی یوه کس چې په پښتو ئې سمې خبرې کولی شوې، ما ته وویل:گ د انسان په ژبه در سره وغږیږو او که د حیوان؟ ما ورته

وویل: زه خو انسان یم او د انسان په ژبه پوهېږم نه د حیوان، هغه وخندل او په ډېره مینه ئې راته وویل: دلته کښېنه، پوښتنه ئې وکړه چې چای څښې؟ ما وویل: نه مننه، هغه قلم راواخیست او ماته ئې وویل:ګ ته وایه او موږ به ئې لیکو، ما ورته وویل: څه ووایم؟ هغوی وویل: موږ ته د عربانو، طالبانو او نورو مخالفینو کورونه راوښیه، موږ له تا سره هیڅ مشکل نه لرو، یوازې دا معلومول غواړو چې تاسو زموږ دوستان یئ که نه، که هغه خلك راوښیئ چې زموږ ملك ته مشکلات جوړوي نو تاسو به زموږ دوستان وئ، هسې هم زموږ او ستاسو هدف یو دی، موږ او تاسو په ګډه جهاد کړی اوس به ئې هم کوو، د مخافلینو په هکله به هم په ګډه معلومات راغونډوو!! ما ورته وویل: ما ته خو نه د کوم عرب یا طالب کور معلوم دی او نه داسې کور چې په هغې کې عربان او د نورو مجاهدینو مشران پټ وي، زه په دې باره کې هیڅ معلومات نه لرم او هیڅوك نه پیژنم. له همدې خبرې سره دوی خپلو کسانو ته اشاره وکړه او زه ئې بل اطاق ته بوتلم، هلته یو کټ پروت وو، په دې کټ ئې کلك وتړلم او سملاسي ئې زما پر وهلو پیل وکړ، هغوی ځینو په کیبل، ځینو د بانس په لرګي او ځینو په داسې پایپ وهلم چې په منځ کې ئې زنځیر وو، د دوی ظاهري څیرې او قیافې د ملتزمو مسلمانانو غوندې وي، اوږدې ګیرې، واړه بریتونه، او په جیبونو کې ئې مسواکونه، خو زړونه ئې تر لیوانو او یهودانو هم سخت، ما په خپل ژوند کې نه داسې بې رحمه انسانان لیدلي وو او نه مې په خیال کې تیرېده چې انسان به دومره هم بې رحمه کیدی

شي!! څو څو ځله راباندې بې هوشي راغله، هر څومره چې به مې له دوی نه د رحم غوښتنه کوله او الله او رسول (ص) به مې ورته شفیع کاوو، همدومره به د دوی قهر او غیظ لازیاتېدو، تقریباً د شپې یوولس بجې ئې زه بیر ته همغه اطاق ته بوتلم، دوې ورځې وروسته ئې بیا وروغوښتم، بیا همغه وینا، ګواښونه او وهل ټکول وو، بیا هم پر ما څو ځلې بې هوشي راغله، د شپې دولس یا یوه بجه ئې له لاسونو او پښو ونیولم او په خپل اطاق کې ئې واچولم. له یوې ورځې وقفې نه وروسته ئې بیا همغه اطاق ته بیولم، چې مخکې ئې وروستی وم، همغه کسان ناست وو، زما حالت ډیر خراب او بې سیکه او بې سده غوندې وم، نه سم تلی شوی او نه سم ودرېدی، په دې حالت کې زما په لیدو سره ټول په خندا شول او راته وئې ویل: اوس خو به انسان شوی ئې که نه؟ ما ورته وویل: له الله نه ووېرېږئ، پر ما رحم وکړئ، هیڅ ګناه مې نه ده کړې، له هغو کسانو هیڅ خبر نه یم چې تاسو ئې له ما نه پوښتنه کوئ، په دې وخت کې ئې یوه کس ته ګوته ونیوله او راته وئې ویل: دا سړی وینې، څرنګه سړی در ته معلومېږي، مسلمان که نامسلمان؟ زه هغه ته ځیر شوم، سره بخونه ږیره او شنې سترګې ئې وې، ظاهر ئې په شریعت برابر، له څیرې او جامو نه مسلمان معلومېدو، په فارسي غږېدو، پښتو ئې هم زده وه او په اردو ئې هم خبرې کولی شوې، دا ګومان مې پرې راغی چې ښایي د پنجشیر او د شورای نظار غړی به وي، ما وویل: ما ته خو ښه سړی او مسلمان برېښي، هغه راته وویل: هو دا مسلمان دی، خو که موږ همدا اوس ده ته ووایو چې خپلې خویندې راوله او ناروا

عمل ورسره وکړه هغه ئې مني او که ورته ووایو چې خپله ښځه راوله چې دا ناست کسان ورسره بد عمل وکړي مخالفت نه کوي، خو هغه زموږ د سترګو تور دی، موږ له تا نه داسې غوښتنې نه کوو، یوازې دا درنه غواړو چې له موږ سره ملګرتیا او مرسته وکړه، هم به آزاد شې، هم به له دې تکلیفونو نه خلاص شې، او هم به دې مونږ ښه ونازوو، بیا هماغه سورړیري سړي راته مخ کړ او د نصیحت په توګه ئې راته وویل: وروره اوس مجبوري ده، رښتیا ووایه او ځان له دې مصیبت نه خلاص کړه!! ما وویل: ستا له خوا خوږي نه مننه، خو زه داسې څه نه لرم چې دوی ته ئې ووایم او ځان پرې خلاص کړم، که له ما سره څه وی نو آیا له دغو عذابونو سره سره مې هغه پټ ساتلی شوی، که په دروغو څه ورته ووایم، نو سبا به دوی ته څرګنده شي چې ما ورته دروغ ویلي وو، زما له دې وینا سره سم، دې بې رحمو خپلو کسانو ته اشاره وکړه او زه ئې په څلورو کسانو راونیولم، جامې ئې رانه وایستې، د ټولو په مخکې ئې بربنډ کړم، ټولو په ما مسخرې کولې، په خپلو کې ئې کړس کړس خندل، بیا ئې په همدې حالت کې پښو ته پړی راواچاوو او له چت نه ئې راځوړند او تر وهلو لاندې ئې ونیولم، دا ځل ئې تر مخکې نه هم زیات ووهلم، په داسې وخت کې ئې وهل بس کړل او له چت نه ئې راکوز کړم چې نور نو زه بې سده وم، نه مې خبرې کولی شوی او نه مې چیغې وهلی شوې، دا سخته ورځ په سختو دردونو او زګیرویو کې راباندې تیره شوه، نږدې یوه میاشت ئې له ما سره همدا لوبه کوله، یوه دوه ورځې وروسته به ئې دلته راوستم او تر مخکې به ئې لازیات او تر نویو

نویو عذابونو لاندې نیولم، داسې عذابونه چې زما قلم ئې له لیکلو عاجز دی، دا ارمان به مې کاوو چې کاش د دوی په ځای د ورږو لیوانو په منگولو کې پریوتی وی، کاش کوم ستر مار چیچلی وی، دا خو تر لیوانو ډیر بې رحمه دي، د مظلومانو له وهلو، داړلو او ځورولو نه خوند اخلي، چیچل ئې نه ختمېږي، زهر ئې درد لري خو فوري مرگ نه، یوه میاشت وروسته او په داسې وخت کې چې زه نور له خوځېدو او حرکت نه لوېدلی وم، دې ته نږدې شوی وم چې خپل حواس او اعصاب له لاسه ورکړم، راته وئې ویل:گ ځو کسه میلمانه راغلي، غواړي تا وگوري، د دوی خبره پر ځمکه مه اچوه، ستا خیر په دې کې دی چې هغوی ته مثبت ځواب ورکړې، همکاري وکړې، مشکل به دې حل شي، پام کوه چې له مرستې نه انکار ونه کړې که نه نو بیا به د تل لپاره پښیمانه وې، له دې نصیحتونو نه وروسته ئې زه بل اطاق ته بوتلم، هلته دوه امریکایان ناست وو، یوه ښځه او یو نارینه، هغوی د ترجمان له لارې ما ته وویل:گ موږ ته رښتیا ووایه، د حکمتیار، ملا عمر او اسامه په هکله معلومات راکړه، تا به خوشي کړو، له رنگ نه دې ښکاري چې ډیر ځوربدلی ئې، موږ به دې ضمانت وکړو او آزاد به شي. ما دوی ته وویل: باور وکړئ چې زه په دې هکله هیڅ معلومات نه لرم، زه ئې د لارې نه راوستی یم، ما یوه شپه هم په کوم سنگر او تنظیم کې نه ده تیره کړې، زه به څنگه د عربانو، اسامه، ملا عمر او حکمتیار د اوسېدو له ځایه خبر وم؟ که له ما سره د دوی په هکله کوم معلومات وی نو خامخا به مې مخکنیو تحقیق کوونکو ته ورکړی وو، د دومره عذابونو په وړاندې

څوك مقاومت کولی شي؟ بیا ئې ټینګار وکړ چې ضد مکوه، همدا دې د خلاصون لار ده، خو کله چې دوی له مانه مایوسه شول زه ئې بیرته فوځیانو ته حواله کړم، هغوی ډیر په قهر شول او دا ځل ئې د نورو ځلونو په نسبت ډیر وکړولم، دا ځل راباندې داسې حالت راغی چې پښو نه فلج شوم او بولي مې په اختیار کې نه وې او ما ئې د ټینګولو توان نه درلود، بیا ئې ډاکټر راته راووست او زما تداوي ئې شروع کړه، خو لدې سره هم تعذیب روان وو، هغوی په دې حالت کې نه وهلم، خو نوري شکنجې ئې راکولې، لکه بې خوبې دین او شریعت ته ښکنځلې او سپکاوی، صحابه وو ته ښکنځلې، دا سلسله روانه وه.

دا ټوله صحنه داسې راته ښکارېده لکه دا فوځیان چې ټوله خواري د دغو په اصطلاح میلمنو لپاره باسي، د پاکستان اصلي واکمنان دغه میلمانه دي، فوځ او پولیس د دوی په خدمت کې، زمونږ نیول، وهل او ځورول د دوی د خوشحالولو لپاره، د وزیرستان جنګ او پر بې ګناه خلکو بمونه ورول د دوی په امر او د دوی د راضي کولو لپاره، داسې مې ګڼله لکه زه چې کوم ښکار شوی زخمي سوی وم، دا میلمانه زما ښکاریان او دا فوځیان د دوی ښکاري سپي. دا خبره د یادولو ده چې کله ما دا رساله لیکله نو د خبري رسنیو له لارې د واشنګټن پسټ په هغه کاریکاتور ګرم بحثونه او تبصرې رواني وې چې پاکستاني چارواکي ئې د ښکاري سپي په څیر انځور کړي وو، کاریکاتور ښیي چې یو ښکاري سپي د ابوالفراج په پښه خوله لګولې ده او امریکائې افسر ورته وائې: د

ابوالفراج له نیولو وروسته اوس د اسامه وار دی!! گورئ چې یوازې ما ته نه بلکې امریکایانو ته هم هغه کسان د ښکاري سپیانو په څیر بریښي چې د څو ډالرو لپاره مسلمانان نیسي او دوی ته ئې سپاري!!

له دغو خبرو نه زما انتباه دا وه چې ښایي د کشمیري مجاهدینو په هکله به هم دغه کسان د امریکایانو له لارې هندي چارواکو ته معلومات ورکوي، او د همدې لپاره په دې وروستیو کې د کشمیري مجاهدینو ډیر غړي ونیول شول او ډیر ئې په شهادت ورسېدل، دا لږ، له هغه وروسته تونده شوه پاکستان FBI او CIA ته دفترونه ورکړل، هر چا ته دا خبره معلومه ده چې امریکایان کشمیري مجاهدین هم تروریستان گڼي او تل له اسلام آباده غواړي چې له دوی سره مرستې بندې کړي.

یوه شپه یو کس زما اطاق ته راغی، داسې ښکارېدو لکه چې مخکې مې چیرته لیدلی وي، غالب گمان مې دا وو چې په افغانستان کې مې لیدلي وي، له قد نه لوړ وو، کالي ئې سپین او ږیره ئې توره وه، له سلام ویلو سره داخل شو، ما د سلام ځواب ورکړ، په فارسي ئې خبرې شروع کړې، په نرمه لهجه او په مینه مینه غږېدو، ما په تیرو دوو میاشتو کې نه په مینه خبرې اورېدلې وې او نه په نرمه لهجه، تل مې گواښونه، ښکنځلې، ستغې سپورې خبرې اورېدلې وې، د داسې چا په انتظار کې وم چې زما خبره په سړه سینه واورې او ما ته د ویلو فرصت راکړي، ده زما خبرو ته غوږ ونیوو، ظاهراً زړه سواندی ښکارېدو، زه ډیر ژوبل ووم، د حرکت نه وم، پښې مې فلج غوندې وې، زغم مې پای ته رسېدلی وو، اوښکې مې

له سترګو توئې شوې، او په ژړا ژړا کې مې د خپلې بې ګناهۍ قصه ورته پیل کړه، زما مظلومیت او پریښانه حالت هغه هم په ژړا کړ، راپورته شو، او په داسې حال کې چې په سترګو کې ئې اوښکې رغړېدې، زه ئې پر سر او مخ ښکل کړم او راته وئې ویل: صبر وکړه، نور به تا ځوك نه وهي، خیر دی، الله (ج) به تا ته اجر درکړي، بس دا یوه ابتلا وه، له صبر نه پرته بله چاره نشته، نور نو ستا خلاصون ډیر نژدې شوی، بیا ئې راته وویل: اوس به له ما سره دلته نږدې لاړ شې، هلته ځوك ستا لیدل غواړي، کله چې روانېدو نو زما سترګې او لاسونه ئې راوتړل، بیا ئې یوه لوی اطاق ته داخل کړم، هلته مې په انګلیسي خبرې واورېدې، ګمان مې وکړ چې ښایي بیا همغه امریکایان وي، چې سترګې ئې راپرانیستې، ومې لیدل چې خبره همداسې وه، دوه امریکایان، یو نارینه او یو ښځینه په کرسیو ناست وو، هغوی زما عکسونه او د ګوتو نښانونه واخیستل او راته وئې ویل: ته تروریست ئې؟ ما ځواب ورکړ: نه زه یو غریب سړی یم، له رکشې ئې راکوز کړی یم، هیڅ جرم مې ندی کړی، له هیڅ سیاسي ډلې سره تعلق نه لرم، له هغو خلکو څخه خبر نه یم چې ستاسو ترتعقیب لاندې دي. بیرته ئې خپل اطاق ته ولېږلم، څو ورځې نور هم هلته پاتې شوم، خو پرته له وهلو ټکولو، د تعذیب لړۍ بنده شوې وه، زما پر زخمونو ئې پټۍ ولګولې، دوا ئې راکړه، او په همدې حالت کې ئې څو ورځې هلته وساتلم، بیا یوه ورځ څو کسه مسلح راغلل، زما سترګې ئې راوتړلې، د تورو شیشو یوه موټر ته ئې پورته کړم، تقریباً نیم ساعت وروسته ئې سترګې راخلاصې کړې،

متوجه شوم چي موټر مو د اسلام آباد په لور روان دی، کله چي اسلام آباد ته نږدې شوو بیا ئې سترګې راوتړلې، څه ځنډ وروسته موټر ودرېدو او زه ئې ترې کښته کړم، په یوه لوی اطاق کي ئې سترګې راخلاصې کړې، ګورم چي دا مجهز او لوکس اطاق دی نه زندان، دلته هر څه پریمانه دي، ښه خوراك، یخې اوبه، شربت، میوې، لکه چي زه کوم میلمه وم نه کوم معتوب زنداني، له ځان سره مې ویل: ښایي ما خوشي کوي، غواړي زه دا ټول ظلمونه هیر کړم، او د منني له احساس سره له زندان نه ووځم، په دې نه پوهېدم چي دا به یوه بله ابتلاء وي، تر مخکنۍ ګ هم سخته، او زما د ایمان او عقیدې لپاره ترمخکنیو ابتلاءاتو هم ډیره خطرناکه، مخکي خو له ماسره داسې څه نه وو چي دښمن ته ئې ګټه رسېدی او زه ئې له عذابونو نه خلاصولی شوی، خدای خبر که له ما سره داسې څه وی نو ما به صبر کړی وو که نه، خو د ابتلاء دا دور داسې وو چي یوازې د الله په فضل او پېرزوینې ورڅخه بریالی وتلی شوی، خو الحمد الله الحمد الله چي زما مهربان مولا زما مرسته وکړه او په دې سختې ابتلاء کي ئې له ناکامېدو وژغورلم او خپل رب ته تور مخی نه شوم.

د هغې ورځې په سبا بیا یو کس راغی، توره ږیره ئې وه، دریشي ئې اغوستې وه، په فارسي ژبې ئې خبرې کولې، ظاهر ئې د ښه سړي وو، ما ته ئې وویل: نور به ته خپل کور ته لاړ شې، نن به له تا سره څوك ګوري، هغوی به ستا د خلاصون پریکړه کوي، چي څه ئې درته ویل هغه ومنه، خبره ئې پر ځمکه مه غورځوه، ستا خیر په همدې کي دی، بیا ئې سترګې او لاسونه راوتړل، په موټر کي ئې

واچولم، له لږ ځنډ وروسته ئې یوه تعمیر ته داخل کړم، هلته بیا امریکایان په کرسیو ناست وو، له ما نه ئې تحقیق شروع کړ، زما د شخصي ژوند په اړه ئې تفصیلي پوښتنې رانه وکړې، او د پوښتنو په پای کې ئې راته وویل: که له مونږسره له مرستې او ملګرتیا ډډه وکړې نو د ټول عمر لپاره به دې زندان ځای وي، نه به دې څوك غږ واوري او نه به دې څوك احوال اخیستی شي، او نه به دې څوك خلاصولی شي، او یا دا چې له مونږ سره تعاون وکړه، مونږ دا نه غواړو چې ته زمونږ لپاره جنګ وکړه، یوازې د څو خبرو معلومات درنه غواړو، مونږ تا ته د ژوند ټولې اسانتیاوې برابره وو، موټر، پیسې، کور، ښځه، که غواړې په امریکا کې ژوند وکړې، نو مونږ هلته کور او کار درکوو، او که غواړې په افغانستان کې ژوندوکړې نو مونږ دلته تا ته ښه کور او په حکومت کې ښه دنده درکوو، د حکمتیار، اسامه او ملا عمر، په هکله معلومات راکړه، چیرې دي او څنګه نیول کیدی شي، مونږ ته د عربانو د اوسېدو ځای او نښه راوښیه، عربانو ستاسو وطن وران کړی، دوی هم ستاسو دښمنان دي او هم زمونږ، ... ما ورته وویل: زه یو غریب سړی یم، په وس کې مې هیڅ هم نشته، په دې کار کې ستاسو هیڅ مرسته نشم کولی، د دوی د اوسېدو له ځایونو نه خبر نه یم، تاسو راته ووایئ چې زه په داسې حال کې څنګه ستاسو مرسته کولی شم چې نه له دوی سره معرفت لرم او نه ئې د اوسېدو له ځایه خبر یم؟ په ډیره غصه اوچت شول او راته وئې ویل: دوه ورځې درته مهلت دی، ښه فکر وکړه، ابدي زندان دې خوښ دی که ښه او هوسا ژوند، که عقل لرې نو له

دې فرصت نه به استفاده وکړې، په همدې سره له اطاقه ووتل، او زه ئې بیرته خپل مخکني ځای ته بوتلم، هلته بیا هماغه فارسي ژبی راغی او دا نصیحتونه ئې راته پیل کړل چې ګوره خپل ژوند مه تباه کوه، زه خو تا ته حیران یم، ولې له خپل ژوند سره لوبې کوې، د دوی خبره ومنه، ته په دې کې څه تاوان کوې،... زه ډیر پریشانه او ډیر ژوبل وم،نه پوهېدم څه وکړم، یوې خوا ته مې کړېدلي مور او پلار او کوچني بچیان او بلې خوا ته د ګوانتانامو اوسپنیز قفسونه، یوې خوا ته دا کړاوونه، او د الله تعالی دربار ته له هیلي پرته ټولې دروازې پر مخ تړلې، د خلاصون هیڅ لار په نظر نه راتلل، بلې خوا ته د وعدو دا زرغونه باغونه، یوې خوا ته پر ایمان ټینګار خو له داسې آزموینو سره چې فولاد ویلي کوي، خو بلې خوا ته د خلاصون زړه راښکونکي وعدې، خو له کفر سره د ملګرتیا په بیه، په همدې اضطراب او پریښانۍ کې خوب یووړم، په خوب کې ګورم چې د قرآن تلاوت کوم، کله چې راویښ شوم، له پیره دار نه مې قران مجید وغوښت، هغه د تفهیم القرآن یو جلد راووړ، له پرانیستو سره سم مې سترګې د یو سف د سورې پر دې مبارك آیت ونښتې: رب السجن احب الي مما یدعونني الیه: خدایه! ما ته دا زندان تر هغه څه ډیر غوره دی چې دوی مې وربلي. په دې آیت سره ما خپل ځواب موندلی وو، ما ته قرآن وښوده چې د ایمان لاره کومه ده او په داسې حالاتو کې د ایمان خاوند باید کومه لار غوره کړې، لومړی مې د دې آیت تفسیر او بیا ټوله سوره ولوسته، الله تعالی زما پر زړه یوه داسې عجیبه سکینه او ډاډینه نازله کړه چې زه ئې د بیانولو لپاره

الفاظ نلرم، ډیر مطمئن شوم او دا مې یقین شو چې الله تعالی به مې د یوسف علیه السلام په څیر له زندانه خلاصوي، سبا چې هماغه سړی راغی او بیا ئې همغه نصیحتونه راته شروع کړل، نو ما ورته وویل: له ما نه هیڅ طمع مه کوئ، زه هیڅ څوك نه پیژنم، زه ستاسو د پوښتنو لپاره هیڅ نوی ځواب نلرم، له همدې خبرې سره هغه له اطاقه ووت، او له لږ ځنډ نه وروسته پیره دار راغی، توره خلته ئې زما پر سر راواچوله، له دې اطاقه ئې خارج کړم او د یوه دهلیز یوه اطاق ته ئې بوتلم، په دې دهلیز کې اته وړې وړې تورې کوټې وې، هلته نور بندیان هم وو، اکثره ئې عربان وو. دا لومړی ځل وو چې له دوه نیمو میاشتو وروسته د ځان په څیر نور بندیان ګورم، هغوی هم زما په څیر او حتی تر ما ډیر زیات ځورول شوي، او همدا لومړی ځل وو چې په دې مودې کې مې پر هغه چا سترګې ښښلې چې ظاهر او باطن ئې د مسلمان دی، له دې نه مخکې مې د کفر په خدمت کې منافق مسلمانان لیدل او د ده امریکایي افسران، د دواړو په زړونو کې له اسلام او مسلمانانو سره سخته کینه او نه پخلا کیدونکې دښمني.

په دې ځای کې مې شل ورځې تیرې کړې، دلته وهل ټکول او پوښتنې ګوښږنې نه وې، په بل لوري د لیږلو لپاره د انتظار شپې ورځې وې، له شلو ورځو وروسته، یو مازیګر، په څلورو بجو ئې موږ ټول چې ښایي پنځه دیرش کسان به وو، په موټر کې واچولو او هوایي ډګر ته ئې بوتلو، دا د پنډی کوم عسکري میدان وو، هلته ئې امریکایي فوځیانو ته تسلیم کړو، باور وکړئ چې پر خپل ځان

مو هومره ترحم نه راتلو لکه پر پاکستاني فوځیانو، دوی امریکایانو ته داسې لاس پر نامه ولاړ وو لکه یو ذلیل غلام د یوه مغرور بادار په وړاندې!! د دې دردوونکي حالت په لیدو سره مې اوښکي په سترگو کي ورغړېدې چي دا دی نن پاکستان، دا د اسلام قلعه، اوس د صلیبي ځواکونو په یوې نظامي اډې بدل شوی او فوځ ئې د امریکایانو تر قومندې لاندې د اسلام او مسلمانانو په ضد جنگېږي!! ما ته د امریکا د اټارني جنرل هغه خبره مخې ته ودرېده چي ویلي ئې وو: پاکستانیان دي ته تیار دي چي خپله مور هم په لس ډالره وپلوري!! ما خپل کمونست روښان فکران لیدلي وو، د روسانو د خوشحالولو لپاره چي هغوی له خپل ولس او هیواد سره څه کول هغه مې لیدلي وو، خو د پرویز مشرف ملگري روښان فکران مې نه وو لیدلي، اوس پوه شوم چي روښان فکران په هر ځای کي او هر هیواد کي ورته خلك دي، څوك چي له خپل ملت نه پردی او د نورو غلام شي او د دوی د خوشحالولو لپاره هر څه ته تیار وي، د دین او هیواد پلورلو ته چمتو وي، نو پر ځان د روښانفکر نوم کیږدي!!گ

دا زما د ژوند یوه عجیبه ورځ وه، لاس پښې مې تړلې، په تذکره کي، او د یوه مړي په څیر امریکایي فوځیانو ته سپارل کیږم، خو روښان فکره مسلمان مې مسیحي دیموکرات ته سپاري، یو منافق مې یوه کافر ته تسلیموي، امریکایانو ډېرې چیغې وهلې، خوښي او نڅا ئې کوله، له دوی سره خپل سپیان هم وو، سپیانو ئې هم غپل، موږ ئې په ډېر بد حالت کي طیارو ته پورته کړو، هر یو ئې

په کرسیو پورې په ځنځیرونو کلك کلك وتړلو ، سر ته مو امریکایي فوځیان ودرېدل، چې ځوك به لږ وخوځېدو نو پر سر به ئې د سوکانو باران جوړ شو ، دا لومړی ځل وو چې زه امریکایان په فوځي جامو کې وینم او د دوی دین، مذهب، اخلاق، او دیموکراسي په خپلو سترگو گورم، ما گومان نه کاوو چې امریکایان به دومره ذلیل او رذیل وي، دومره به وحشي او بې رحمه وي، دومره به بد اخلاقه او حیوان صفته وي، او دومره به کم ظرفه او بې زړه وي چې د یوه لاس پښې تړلي انسان له معمولي خوځېدو نه به هم وېرېږي، او داسې وحشیانه عکس العمل به ښيي!!

طیاره د بگرام په هوائي میدان کې کښیناسته، زما گومان دا وو چې دا به کوم بل ځای وي، خو وروسته راته معلومه شوه چې دا بگرام دی، په بگرام کې مو هم ولیدل چې د امریکایانو د سپیو شمیر تر دوی کم نه وو ، سپیانو راته غپل او امریکایانو به په سر سر په سوکانو وهلو ، زه تعذیبونو ډیر پیکه کړی وم، په خپلو پښو نه شوی تلی، همداسې ئې په کشولو کشولوگ په یوه انگړ کې واچولم، د خپلو ترجمانانو په واسطه ئې مونږ ته وویل: پام کوئ چې دلته ځوك ځان ونه خوځوي، که مو لږ بې ځایه حرکت وکړ نو دا سپې به درپسې خوشې کړو او دوی به مو ځیرې ځیرې کړي. نیم ساعت وروسته ئې یو یو کس له دې ځایه یوه اطاق ته بوتلو ، هلته ئې زمونږ د تن جامې ځیرې کړې او بیا ئې دریشئ راواغوستې او سملاسي ئې دا پوښتنې پیل کړې: حکمتیار دې اخیري ځل چیرې ولید؟ اسامه او ملا عمر دې اخیرې ځل چیرته لیدلي؟ دوی چیرې

اوسېږي؟ له ګوانتانامو نه له راوتلو وروسته مې د بګرام د دغو ترجمانانو په هکله واورېدل چې اته کسان ئې په دې نیولي وو چې د امریکایانو اسرار ئې افشا کړي وو، د دوی په هکله دا خبره د راډیوګانو او ورځپاڼو له لارې خپره شوه چې په دوی باندې امریکایانو په ګډه جنسي تیری کړي او هومره ئې ربړولي چې ځینې ئې مړه شول!!

په بګرام کې د امریکایانو چلند او د دوی وحشت او بربریت تر لاهور او اسلام آباد نه کم نه وو، دلته زندان په هغه یوه لوی انګړ کې وو چې د روسانو له وخت نه پاتې شوی، امریکایانو په دې انګړ کې د ازغن سیم داسې قفسونه جوړ کړي وو چې په هر یوه کې ئې له شلو نه تر دیرشو پورې بندیان اچولي وو، د ټولو په لاسونو او پښو کې ولچك او زولنې وې، دلته د ایف بي آی او او سي آی ای مطلق العنانه پاچائي وه، څارونکي او مامورین ئې اکثراً ښځې، خو هومره بې رحمه، بې حیاء او بد اخلاقه چې د نړۍ په هیڅ ګوټ کې به ئې مثال ونه مومې، د هغو معلوماتو له مخې به ئې پوښتنې کولې چې له افغاني جاسوسانو اوګ منافقینو نه به ئې ترلاسه کول، که څه هم په دې وخت کې دلته د تحقیقاتو په دوران کې د وهلو او ځورولو مخکنۍ لړۍ په دې خاطر بنده شوې وه چې د نړۍ مطبوعاتو ورباندې سختې نیوکې وکړې، د ډیرو کسانو د وژل کیدو راپورونه په راډیوګانو او اخبارونو کې خپاره شول، زړه بوږنونکې عکسونه ئې نشر شول، مجبور شول دا سلسله موقتاً بنده کړي، وهل ټکول نه وو خو نور تعذیبونه ښه ډیر وو، په شپو شپو خوب ته نه پرېښودل،

تر لسو او شلو ساعتو پورې ځای په ځای داسې ودرول چې لاسونه به ئې بر راته تړلي وو، قرآن عظيم الشان ته توهين او سپکاوی، يو له بل سره خبرې او ليده کاته منع وو، د اودس او غسل کولو اجازه نه وه، په پاکستان او بګرام کې په ټولو پنځو مياشتو کې چا د اودس او غسل لپاره اوبه رانکړې، په لوړ غږ د قرآنکريم تلاوت منع وو، که چا به سرغړونه وکړه نو سخته سزا به ئې ورکوله، د تعذيبونو يوه بيلګه ئې دا وه چې د بندي يو لاس او دوه پښې به ئې تړلې وې، درانه ځنځيرونه چې وزن به ئې تر ديرشو کيلو ګرامو نه زيات وو، په غاړه کې ورواچول، او د ده په خلاص لاس کې به ئې د يوې لويشتې په اندازه وړوکی برس ورکړ، او د يوه لوی ميدان په جارو کولو به ئې وګمارو، هغه خوارکی به په ساعتو ساعتو لګياوو او خولې به ورنه بهېدې، دغو ښځو به ډېر ځلې ځانونه کاملاً بربنډ کړل، د بنديانو په خوا کې به ئې په خپلو کې لوبې کولې او پر بنديانو به ئې ملنډې وهلې، پر مصحف شريف به د پاسه کښيناستې، په لغتو به ئې واهو او د توپ په څير به ئې يوې بلې خوا ته غورځاوو، دا پنځه مياشتې ما په تيمم او اکثراً په اشارو لمونځ وکړ، ځان وينځل او جامې بدلول هم نه وو.

دوه مياشتې وروسته ئې يوه ورځ زموږ ږيرې او سرونه راوخرييل او بيا ئې له دې نه دوه ورځې وروسته د کيوبا په لوري وخوځولو، دا سفر تر ټولو سخت، هيبتناك او له زغم نه پورته وو، څلرويشت ساعته د طيارې مزل وو، زموږ لاسونه ئې په ملا پورې دومره کلك راتړلي وو چې ډېر لږ مو هم نشوی خوځولی، پښې ئې په

زنځیرونو راتړلي وې، په خپل خپل ځای ئې هر یو داسې کلك کلك تړلی وو چې د بدن هیڅ غړی ئې نشو خوځولی، داسې دستکشې ئې راواغوستې چې خپلې گوتې مو نشوی خوځولی، پر سترگو ئې پټۍ راولگولې، او غوږونه ئې رابند کړل، نه مو څه لیدی شو او نه څه اورېدی، زما حالت ډېر خراب وو، د ناستې توان مې نه درلود، زه ئې په یوه تذکره کې څملولم او بیا ئې په زنځیرونو هملته وتړلم، د زنځیر وزن ډېر زیات وو، ډېر زیات ئې ځورولم، خوله، سترگې او غوږونه ئې په داسې څه راته تړلي وو چې ډېر ئې ځورولو، سا مو سمه نشوی اخیستی، په طیاره کې ډېره یخني وه، دومره په تکلیف وو چې په وار وار مو دا دعا کوله چې یا الله دا طیاره راوغورځوې او مونږ له دې کړاو نه وژغورې، تر دې په مرگ راضي وو، تر دې په سل کاله بند راضي وو، دا یوازې زه نه وم چې دې حالت ته رسېدلی وم، هر یو همداسې وو، هر یوه د سفر په پای کې نورو ته همدا ویل چې هلته مې حتی د طیارې د سقوط دعا کوله. کله چې گوانتانامو ته ورسېدو، او له طیارې ئې راکوز کړو، د هغه ځای ساتونکو امریکایي فوځیانو د برې داسې چیغې، نارې سورې پیل کړې چې تا به وېل مسکو یا پیکنگ د دوی په لاس فتح شوی، ځینې ئې گډېدل او ځینو هسې ټوپونه وهل، ځینو مونږ گواښلو او په سوکانو او لغتو ئې وهلو، ښایي هدف ئې دا وو چې خپل رعب راباندې کښېنوي، څو ساعته ئې په سره لمر کې ودرولو، د ترجمانانو په خوله ئې په وار وار او په جگ غږ راته وویل چې دا مو آخري مسکن دی، له دې ځایه ستاسو بېرته تګ او وتل ناشونی دی، د خلاصون

یوازې یوه لار په مخکې لرئ، او هغه دا چې رښتیا ووایئ او له مونږ سره ملګرتیا او مرستې ته چمتو شئ، که نه نو ټول عمر به دلته وئ.

زما حالت ډېر خراب وو، سختې تبې نیولی وم، ذهني توازن مې هم له لاسه ورکړی وو، نو ځکه ئې زه د هغه ځای روغتون ته بوتلم. پدې وخت کې پر ما بیهوشي راغله، په ځان پوه شوی نه یم، چې کله په سد شوم ځان مې په یوې لوئې خیمې کې پر یوه کټ پروت وموند، لاسونه او پښې مې تړلې وې، همدا د دې زندان روغتون وو، د ډاکټرانو وضعیت تقریباً ښه وو، خو د سرو عسکرو وضعیت له روغ او ناروغ سره یو شاني بې رحمانه او وحشیانه وو، ما ته ئې په لاسونو کې سیروم لګولی وو او د خولې او پزې له لارې ئې اوکسیجن راکاوو، په همدې حالت کې هم د سي آی ای بې عاطفې او بې رحمه مستنطقین راغلل، د اکسیجن له قطع کیدو سره سم ئې له ما نه پوښتنې پیل کړې، همغه د دوی تلنۍ پوښتنې، چې په لاهور، اسلام آباد او بګرام کې ئې له مونږ نه کړې وې، حکمتیار، ملا عمر، او اسامه چیرته اوسېږي؟ تا کله او په کوم ځای کې ورسره لیدلي؟ او زما ځوابونه هم همغه پخواني ځوابونه وو. یوه اونۍ وروسته ئې له روغتون نه زندان ته بوتلم، په لومړي سر کې ئې مونږ په انفرادي اطاقونو کې چې قفسونو ته ورته وو واچولو، دا قفسونه له کانتینرو نه جوړ شوي وو، د هر یوه اوږدوالی او سور یو سل و اتیا سانتي متره وو، کړکۍ یا دریچه ئې نه درلوده، دیوالونه ئې اوسپنیزې پنجرې وې، په ژمي کې ډیرې سړې او په اوړي کې ډیرې ګرمې، دلته هم د بیت الخلا انتظام نه وو، خاص سطلونه به ئې

راکول، خو له بګرامه ئې په دې خاطر وضع ښه وه چې دلته مو اوبه درلودې. په سر کې دلته هم ډېر سخت قیودات وو، یو بل ته کتل او خبرې کول منع وو، خو بیا د الله تعالی په فضل سره دا قیود مات شول، او هغه هم داسې چې یوه مجاهد ورور درې ځلې یو په بل پسې په خوب کې ولیدل چې پیغمبر علیه السلام ورته وایي: جګ شه اذان وکړه، ده ورته وویل:ګ یا رسول الله! د څه شی اذان وکړم؟ په لومړي او دوهم ځل کې څه ځواب نه اوري، خو په دریم ځل پیغمبر علیه السلام ورته وایي: اذان باالفرج: د آزادۍ آذان، دا وخت د شپې دوه بجې وي، دا مجاهد جګ شو او په ډېر لوړ غږ ئې الله اکبر الله اکبر وویل او ورپسې ئې پر ټولو بندیان غږ وکړ چې پورته شئ، رحمان خدای ته سجده وکړئ، موږ آزاد شوو، موږ ټولو د تکبیر نارې اوچتې کړې، له حالت نه سم خبر نه وو، هر چا د بل نعره بدرګه کوله، دغه شور ځوږ امریکایان سخت وارخطا کړل، له کمپ نه ووتل او شاوخوا ئې مورچلې ونیولې، ټانکونه او توپونه ئې مونږ ته مخامخ کړل او په لوډسپیکرو کې ئې نارې کړې چې چپ شئ که نه نو د قعله جنګي حادثه به دلته هم تکرارشي، ورونه چپ نه شول، د لمانځه تر وخته مو چیغې وهلې، امریکایان هم وارخطا وو او نه پوهېدل چې څه وشول، تر لمر ختو پورې له یوې خوا تکبیرونه او له بلې خوا ګواښونه او تهدیدونه، ورو ورو ټول بندیان په خبره پوه شول، او تکبیرونه بند شول، خو د دې تکبیرونو نتیجه دا شوه چې د زندان هغه مخکنی رعب او سکوت مات شو، په جګ غږ تلاوت او په جهر لمنځونه پیل شول، نور نو د امریکایانو ګواښونو ته چا

اعتناء نه کوله، یوه میاشت مو په دغو انفرادي قفسونو کي تیره کړه، بیا ئې عمومي زندان ته انتقال کړو، هلته هم وړې وړې کوټې وي، د قفسونو په څیر، هر یو ئې ۱۸۰ په ۱۸۰سانتي متره کي، دلته په یوه بلاك کي اته څلویښت اطاقونه وو، له کلکو پنجرو او مثلث شکله پریړو جالیو څخه جوړ شوي وو، خو په دې اوسپنیزو قفسونو کي تشناب هم وو او چپرکټ هم، خو دلته لوی مشکل د پردې وو، له بهر نه د قفس هر څه له ورایه معلومېدل، مجاهدین له دې اړخه سخت ځورېدل، له دې قفسونو نه ئې په اونۍ کي یوازې دوه ځله د شلو شلو دقیقو لپاره بهر ایستلو، هغه هم یوه بل لوی قفس ته چي سقف ئې د جالۍ وو او د لمر وړانګې به پرې لګېدې، نو دلته به مو په اونۍ کي د غه څلویښت دقیقې لمر په سترګو لیدو، دا لوی قفس تقریباً لس متره په لس متره کي وو، دا د مستنطقینو په اختیار کي وو، ځینو ته به ئې دلته د مختصر سپورت کولو اجازه هم ورکوله، خو په چا چي به غصه وو هغه به ئې له دې نه محروم کړ.
د سور پوستو امریکایانو اکثرو له اسلام او مسلمانانو سره سخته کینه درلوده، اسلام ته سپکاوی او د قرآن بې حرمتي به اکثراً د دوی له لوري وو، چي په مقابل کي به ئې بندیانو کلك غبرګون ونبود، کله به ئې د تکبیر په نعرو او مظاهرو لاس پورې کړ او کله د ډوډۍ نه خوړلو په اعتصاب، د دوی اعتصاب به کله کله ډیر اوږد شو، یو ځل خو ئې څو اونۍ دوام وکړ او خبر ئې د نړۍ په مطبوعاتو کي هم په پراخه پیمانه منعکس شو، خو د زندان د وضعیت په بدلولو کي ئې اغیز ډیر لږ وو، ځینې عرب مجاهدین خو بیا داسې هم وو چي

کله به ئې لاس بر شو نو پر دغو امریکایانو به ئې برید کاوو، کله به ئې تر پزې او غوږ ونیو او کله به ئې لاس ورتاو کړ، امریکایان زمونږ له مظاهرو او د تکبیر له نارو نه ډیر وېرېدل، د مظاهرو په وخت کې به له بلاکونو نه ووتل او شاوخوا به ئې مورچلې ونیولې، خو له مظاهرو نه وروسته به ئې په یوه او بله بڼه خپل غچ اخیستو، ډوډۍ به ئې راکمه کړه، (هسې هم ډوډۍ ډیره کمه وه، او هغه هم ډیره خرابه چې تریو بوی به ترې خوت)، او کله به ئې یو کس وایستو او په داسې حال کې به ئې بیرته راووست چې سر، ږیره، بریتونه او وروځې به ئې ورخریيلې وو، دلته زمونږ وضعیت داسې وو چې زما وزن له اویاوو کیلو نه پنځه څلویښت کیلو ته راکښته شو، د هر بندي وضع همداسې وه.

د زندان ساتونکي فوځیان په بیلو فرقو پورې مربوط وو، د دوی یوې ډلې د ۹۴ فرقې نښه او بلې ئې پیپسي ته ورته نښه درلوده، د دې فرقې غړي اکثره سور پوستې امریکایان وو چې ډیر بې رحمه، شریر، او وحشي وو او له اسلام او مسلمانو سره ئې سخته کینه وه، یوه بله ډله ئې هسپانیوي توکمه وو، دوی شریف خلك خو ډیر بې زړه وو، له موږ سره ئې ښه سلوك کاوو، له عربانو سره ئې ډیره مینه کوله، زموږ پر حالت به ئې اکثرو ژړل، موږ به د افغانستان او عراق حالات ورته بیانول، په دوی کې ډیر کسان مسلمان شول، دوی به چې کله د امریکایانو هغه وحشیانه ظلمونه او په مقابل کې ئې د ورونو مقاومت ته کتل نو له یوه نه به ئې کرکه او د بل په هکله ترحم او عاطفه ورځ په ورځ زیاتېده، له مونږ نه به

ئې پوښتل: دا تاسو په کوم دين ياست؟ په څنګه خدای باور لرئ؟ اسلام څنګه دين دی؟ تاسو د څه لپاره دا ټول کړاوونه پر ځان منلي؟ د اسلام په هکله به ئې ډيرې پوښتنې کولې، داسې به معلومېدل چي د اسلام منلو ته سخت چمتو دي، هسې يوې اشارې او معمولي لارښوونې ته ضرورت لري، ډير ئي مسلمان شول، ډيرو نورو به ئې مونږ ته ويل: تاسو په حقه ياست، او دا خو به هر يوه ويل چي پر تاسو ډير ظلم او زياتی کيږي، په دوی کي ځينې ئې ډير هوښيار وو، د افغانستان په هکله ئې کافي معلومات هم درلود، د هغو افغاني ډلو په هکله ئې هم لږ او زيات معلومات درلود چي له امريکايانو سره ملګرې شوي، د رباني او سياف نوم به ئې اخيستو، او دا به ئې ويل چي ولې دوی له يرغلګرو سره يو ځای شول؟ امريکايانو خو د دغو افغانانو له مرستې نه پرته پر افغانستان بريد نشو کولی، ټوله پړه به ئې پر دغو کسانو اچوله، ډير ځله به ئې دا خبره کوله چي کيدی شي امريکا په افغانستان کي د شوروي په برخليك اخته شي، که نور افغانان هم ستاسو په څير وي نو امريکا ته د افغانستان دائمي اشغال ممکن نه دی، دوی د امريکا زوال ډير نږدې ګاڼو، او ګومان ئې دا وو چي په افغانستان کي د امريکا ماتې به هرومرو د امريکا په متلاشي کيدو منتج کيږي. د تور پوستو امريکايانو وضعيت هم دوی ته ورته وو، له مونږ سره ئې ډيره خواخوږي ښوده، له سور پوستو نه ئې ډيره کرکه درلوده او د امريکا ماتې او زوال ته په انتظار وو.

امريکايانو بنديان په څلورو برخو ويشلې وو، له هرې برخې

سره ئې بیل بیل او امتیازي چلند کاوو، د اولې درجې بندیانو ته ئې دا تسهیلات ورکړي وو: په اونۍ کې څلور ځلې د سپورت او تفریح اجازه، کمپله، توشك، څادر، کاغذي ګیلاس، د غاښونو برس او کریم، دوهمې درجې ته په اونۍ کې درې ځلې د تفریح او سپورت اجازه، او له څادر نه پرته پاتې نور پورتني لوازم، دریمې درجې ته تر دې راکم خو څلورمې درجې هیڅ نه درلودل، بس یو پرتوګ به ئې په تن کې وو.

د ورونږو په منځ کې ډیره مینه، اخلاص او صمیمیت وو، زندان کور وو، مونږ د دې کورنۍ غړي او په خپلو کې لکه وروڼه، دا نه یوازې یو کور وو بلکې هغه یوه مدرسه هم وه، هم روحاني مدرسه او هم علمي مدرسه، د قرآن درسونه، د عقایدو بحثونه، وعظ او نصیحت، په جمع لمونځونه، خو داسې چې هر چا به له خپل خپل قفس څخه په امام پسې اقتدا کوله، مذهبي اختلافات نه وو، د جدل لپاره مناقشې نه وې، نه رنګ او ژبې سره بیلولی شوو او نه فروعي مذهبي اختلافاتو، هلته داسې کسان راغونډ شوي وو چې د نړۍ د ټولو مسلمانانو په یووالي ئې باور وو، او غوښتل ئې ټول مسلمانان د قرآن په الهي رسۍ سره متحد شي، هلته داسې کسان نه وو چې جدل ئې مذهب وي، او له مذهبي اختلافانو نه تغذیه کیږي، هغه څوك به نورو د امامت لپاره راوړاندې کاوو چې د دې کار لپاره به تر ټولو غوره وو، مهمه نه وه چې دی د کوم هیواد دی، په مخکني قفس کې دی که په منځني یا وروستني کې.

وروسته امریکایانو د ۴ نمبر په نامه نوې کمپ جوړ کړ، دې

کمپ ته به ئې هغه کسان بیول چي څه موده وروسته به خوشي کیدل، په دې کمپ کي بندیانو ته لاندې تسهیلات او امتیازات ورکول کیدل: کافي خوراك، یخې اوبه، د سرو او گرمو جامو په ځای سپین کالي، د ورځې شپږ ساعته د تفریح او سپورت لپاره فرصت، لس کسان په گډه په یوه اطاق کي اوسېدل، د غسل او رفع حاجت لپاره مناسب ځایونه، د گرمۍ په موسم کي پکي،... پدې کمپ کي څلور بلاکونه وو، او په منځ کي ئې یو پراخ آزاد میدان، دلته نږدې سل کسان اوسېدل. دا کمپ په اصل کي د دې لپاره جوړ شو چي له وتلو نه مخکي بندیان موقتاً دلته وساتي، د کړاوونو او ځورونو نښې ئې له څیرو نه محوه شي، هم بندي ترخې ورځې هیرې کړي او هم خبریالان د دوی په څیرو کي د بې رحمانه ځورونو نښې ونه گوري، او هیڅوك دا خبره ونه مني چي وحشي او بې رحمه امریکایانو له بندیانو سره د بشري حقوقو خلاف چلند کړی، د خوشي شوي بندي څیرې ته په پام سره هیڅوك د ده ادعا ونه مني چي په زندان کي ورسره ظلم او زیاتی شوی.

دا هڅه به ئې هم کوله چي له دې نه د ځینو بندیانو د اغوا او په خپل دام کي د اچولو لپاره هم استفاده وکړي، دوی ته به ئې ویل: څوك چي مونږ ته رښتیا ووایي، له مونږ سره ملگرتیا وکړي، دې کمپ ته به ئې انتقالوو او هرراز تسهیلات به ورته برابروو. یوه ورځ ئې څلور کسان چي سپینې جامې ئې وراغوستې وې، د خدای پامانۍ په نامه په ټولو بلاکونو وگرځول، دا ئې ویل چي دې کسانو مونږ ته رښتیا وویل، دا دی له زندانه آزاد شول او خپل کورته روان

دي!! دا لومړی ځل وو چي د ګوانتانامو له زندانه ځوك خوشي کيدو، خو دا د خوشي کولو د لړۍ پيل وو، هر دوه درې مياشتې وروسته به ئې څه کسان دې نوې کمپ ته وړل او بيا به ئې آزادول.

د دې کمپ ترڅنګ ئې د ايکو په نامه يو بل کمپ هم جوړ کړ، چي د سمندر په غاړه وو، او وضعيت ئې ډير هيبتناك وو، هغه کسان به ئې دې کمپ ته بوول چي يا به ئې د تحقيق په دوران کې له خبرو نه ډډه کوله، هيڅ ځواب به ئې نه ورکاوو او يا به ئې پر ساتونکو حملې کولې،د داسې کسانو د ښه ځورولو او مزيد تعذيب لپاره ئې دا کمپ جوړ کړی وو، ما هم دلته څو مياشتې تيرې کړې، د دې کمپ اطاقونه د صندق په څير وو، دننه ئې مطلقاً تياره وه، د رڼا ورننوتو ټولې لارې او چولې ئې بندې وې، يو له بل نه په ډيره فاصله کې پراته وو، نه مو څه ليدل او نه يوه د بل غږ اورېدو، له دې وروسته ئې د پنځم کمپ په نامه يو بل زندان هم جوړ کړ، د دې کمپ له داخلي وضعيت نه خبر نه يم، دې کمپ ته ئې پنځه اويا بنديان انتقال کړل، شپاړس په کې افغانان او نور اکثره عربان وو، په افغانانو کې لاندې کسان شامل وو:

عزت الله د سروبي د حاجي نصرت زوی، شاولي د قندهار د ضابط جليل وراره، قوماندان چمن، عبدالکريم او محمد نبی د خوست، حاجي روح الله د مولوی جميل الرحمن وراره د کنر، ملا فضل او يو په کې هغه تنکی ځوان غازي چي د پل خشتي مسجد ترڅنګ ئې د اشغالګرو په موټر د لاسي بم بريد وکړ او څو کسه ئې په کې مړه او ژوبل کړل، نوم ئې سخي پادشاه او معروف په جواد

وو، په ټولو بندیانو کې کم عمره وو، خو ډیر زړور او د کلك ایمان خاوند، د ده په لیدو سره به هر چا دا تمنا کوله چې کاش د ده په څیر ورور او زوی ئې وی. د پنځم کمپ د بندیانو په هکله چا یو څه او چا بل څه ویل، چا به ویل چې دوی ئې د محاکمې لپاره هلته بیولې، او چا به ویل چې نه د تعذیب لپاره هلته وړل شوي.

په زندان کې ئې یو بلاك بیل او د رومیو په نامه ئې مسمی کړ، دا ئې د هغو کسانو لپاره خاص کړ چې دوهمه درجه سرکښ ګڼل کیدل، دوی ته به یوازې یو نیکر ورکول کیدو، نه به ئې کمیس وو، نه پرتوګ او نه د ځان پټولو نور څه، په ژمي او اوړي کې به بربنډ پراته وو، د دوی حالت ډیر دردوونکی وو، په تیر ژمي کې د ډیرې یخنۍ په وجه تك تور اوښتي وو، خو باور وکړئ چې د دغه بلاك بندیانو دومره قوي ایمان او مضبوطه اراده درلوده چې ټولو ورونو به په ډیره درنه سترګه ورته کتل، او د دوی د عظمت په وړاندې به ئې ځان ډیر ووړ ګاڼو، یو ئې هم دښمن ته تسلیم نشو، امریکایانو به چې کله ساتونکې بدلول او نوې عسکر به ئې دلته راوستل نو هغوی ته به ئې د دغو بندیانو په هکله د ډیر احتیاط او ځان ساتنې سپارښتنه کوله، ورته ویل به ئې چې له دې خلکو نه ځان ساتئ، په هرو شپږو میاشتو کې به ئې ساتونکې تبدیلېدل، د دې تبدیلې یوه لویه وجه دا وه چې د دوی خواخوږې به ورو ورو له بندیانو سره زیاتېده، انساني ترحم او عاطفه به ئې تحریك شوه، له بندیانو سره به ئې ناسته پاسته زیاته شوه او د دوی د شخصیت، خبرو، او دعوت تر اغیز لاندې به راغلل، ډیر ئې مسلمان شول، خو کله چې د

کمپ مسئولین له دې بهیر نه خبر شول، فیصله ئې وکړه چې دا د تبدیلۍ پروګرام چټك کړي نو په هرو درېو میاشتو کې به ئې نوي ساتونکي راوستل. یوه تور پوستي امریکایي له مسلمانېدو وروسته مونږ ته وویل: که امریکا په افغانستان او عراق کې ماتې وخوړه نو مطمن اوسئ چې د امریکا ډېر خلك به مسلمان شي، مخکې خلك له اسلام نه سم خبر نه وو، د شوروي له ماتې وروسته دې خوا ته د خلکو پام راواوښت، د افغانانو او عراقیانو مقاومت د دوی اهتمام او توجه لازیاته کړه، ډیرو د اسلام په هکله مطالعه، څېړنې او تحقیقات شروع کړل، دوی د امریکا له اوسني نظام نه ستومانه دي، مسیحیت له خرافاتو نه ډك دین ګڼي، له کلیسا نه کرکه لري، کشیشانو ته په دې سترګه ګوري چې له دین نه ئې دام جوړ کړی، خلك غولوي او له دوی نه پیسې ښکوي، دا دین نه له انساني فطرت سره اړخ لګوي او نه د انسان له عقل سره، له انسان نه ئې خدای جوړ کړی او بیا دا خدای په داسې حالت کې د صلیب د پاسه ځوړند ښیي چې په لاسونو او پښو ئې میخونه ټکوهل شوي، او وائې چې دا خدای او د خدای زوی دی، خدای به د ده د وینو او قربانۍ په طفیل ټول مسیحیان بخښي، یعني د خدای په دربار کې هم عدالت نشته، هلته به هم یوازې هغه څوك بخښل کیږي چې واسطه لري، جنت د یوه خاص قوم لپاره دی، کشیش د جنت اسناد خرڅوي، د دې دین له مخې به یوازې هغه څوك جنت ته درومي چې کشیش په پیسو راضي کړي، د خدای راضي کول بیا د کشیش کار دی، کوم د عقل خاوند به دا ومني؟ خدای به څنګه داسې بې

عدالتي کوي؟ ځینو خو به په ډیر تاکید او اطمئنان سره ویل چي د امریکا عمر لنډ دی او راتلونکي ئې ډیره تیاره!! تاسو له هغه څه نه خبر نه یاست چي په امریکا کي تیرېږي، د امریکا د زوال ټول عوامل مهیا شوي، دلته هومره ظلم او وحشت روان دی چي په کمونیستي نظامونو کي ئې بیلګې نشئ موندلی، تاسو څه خبر یئ چي له تور پوستو سره په امریکا کي څه چلند کیږي؟ تاسو ښایي له دې نه خبر نه یئ چي په امریکا کي تر دوه سوه نه زیاتې داسې مخالفې ډلې شته چي د دې نظام د ړنګولو لپاره مبارزه کوي!! امریکا باید تر شوروي نه مخکي په زوال محکوم شوې وی، کمونیزم په حقیقت کي د هغه پانګه وال نظام او هغې کلیسا په ضد یو عکس العمل وو، چي همدا نن پر امریکا حکومت کوي، مظلومو کارګرانو غوښتل چي دا ظالمانه نظام نسکور شي او په ټولنې کي عدالت قائم شي، کمونیزم د دې نظام د نسکورولو او د عدالت راوستو غږ اوچت کړ، او کارګرانو پناه وروړه، د امریکا نظام یوې داسې زړې او کاواکي ونې ته ورته دی چي په یوې تیزې سیلۍ سره به رانسکورېږي.

زما لپاره د زندان یوه خبره تر نورو زیاته د حیرانتیا وړ وه، او هغه دا چي دلته مې د مجاهدینو ترڅنګ داسي خلك هك ترسترګو شول چي له امریکایانو سره ئې په ډیر اخلاص ملګرتیا کړې وه، په امریکایي حکومت کي شریك شول، او د مجاهدینو په خلاف ئې په هغو عملیاتو کي برخه واخیسته چي د امریکایانو تر قومندې لاندې ترسره کیدل!! په دوی کي یو هم حاجي روح الله وو، ده له امریکایانو

سره په کمپاین کې ګډ کار کاوو، د مجاهدینو په خلاف عملیاتو کې شریك وو، خو په کنر کې د مقاومت له پیلېدو وروسته امریکایان پرې بدګمانه شول، او دی ئې ونیولو، لومړی ئې بګرام ته او بیا ئې ګوانتانامو ته انتقال کړ، په زندان کې زما خوا ته قفس کې اوسېدو، له ده مې ډېر څه اورېدلي، چې لیکل ئې له فایدې خالي نه ګڼم، په لومړي سر کې ده داسې ګومان کاوو چې ښایې امریکایان به ډېر ژر په خپلې اشتباه پوه شي او دی به خوشې کړي، هغوی ته ئې دا ویل چې ټول مشکلات حکمتیار راولاړ کړي، تاسو یوازې هغه وخت مقاومت له منځه وړی شئ او پر اوضاع مسلط کیدی شئ چې حکمتیار یا مړ او یا ژوندی ونیسئ، د ده په موجودیت کې امنیت نشي راتلی، ورو ورو پوه شو چې امریکایان ورباندې اعتماد نه کوي، خو سره له دې ئې کوښښ کاوو چې امریکایان راضي او قانع کړي!!

کله چې د حزب اسلامي ځینې غړي امریکایانو ته تسلیم شول او کابل ته ولاړل امریکایانو زمونږ د ځورولو لپاره دا زیری راواوراوو چې د مخالفینو وروستي سنګر هم سقوط وکړ او د حزب اسلامي مهم کسان د کابل له حکومت سره یوځای شول، د دوی هغه عکسونه ئې راوړل او په بلاکونو کې ئې وځړول، چې له خلیل زاد او کرزي سره ئې غاړه غړی ښودل، مونږ هم په دې سخت خفه وو، اکثر بندیان په دې نه پوهېدل چې دا تسلیم شوي کسان هومره وزن نه لري چې مقاومت ته تاوان ورسوي او یا ئې امریکایانو ته کومه ګټه ورسېږي، دا هسې نومونه دي، له یوه لست به حذف او په بل کې

ولیکلي شي، نه دا پرې کم شي او نه هغه پرې زیات، حاجي روح الله مې هم لیدو چې په دې کار ډېر خفه شوی، وروسته راته معلومه شوه چې د ده د خفګان وجه بله وه، ده امریکایانو ته ویلي وو چې څنګه مو په دې خلکو اعتماد وکړ؟ امریکایانو ورته ویلي وو چې اوس زموږ پالیسي له مخالفینو نه د معتدلو کسانو رابیلول دي، خو که دغو کسانو په اخلاص سره ملګرتیا ونکړه بیا به ئې ځای دغه زندان وي. حاجي روح الله زما خوا ته قفس کې نږدې درې میاشتې پروت وو، یوه ورځ ئې د خبرو په ضمن کې راته وویل: حکمتیار وګټله، ما ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه؟ ده وویل: کله چې د امریکایانو د راتې خبره توده شوه، زه له رباني، سیاف، مسعود او ځینو نورو کسانو سره په تخار کې ناست وم، د مجلس په جریان کې سیاف نورو ته مخ کړ او وئې ویل: او خلکو! حکمتیار د امریکا سړی دی، امریکا غواړي هغه پر موږ مسلط کړي، ښه ده چې موږ په خپله له امریکا سره خبره او رابطه وکړو، هم له طالبانو سره د جنګ په اړه اطمئنان ورکړو او هم د راتلونکي په هکله، که امریکایانو حکمتیار راوړاندې کړ، خدای خبر چې هغه به له مونږ سره څه کوي؟! ښایي هغه نخرې راباندې وکړي چې په طالبانو به شکر وباسو!! (دا خبرې ئې هسې د نورو د قانع کولو لپاره وکړې، که نه نو له امریکایانو سره لاډېر د مخه خبره شوې وه) ټول په دې خبره موافق شول، زما ګومان دا وو چې سیاف به رښتیا وایي، خو نه یوازې ما ته بلکې ټول ولس ته ثابته شوه چې د روسانو او امریکایانو ملګرې څوک دي، حکمتیار سرلوړی پاتې شو او موږ ته د دنیا او آخرت ذلت او

سپکاوی را په برخه شو!! هغه وګټله، که ژوندی وو نو د افغانستان راتلونکي د ده ده، او که مړ شو نو تاریخ به ئې د یوه ستر مجاهد په نامه یادوي.

زه له دېرشو میاشتو بند نه وروسته د **۲۰۰۵** کال په لومړیو کي له بنده خلاص شوم، کله چي له وروڼو نه رخصتېدم، نو ټولو په جګ غږ راته ویل: زمونږ سلامونه ټولو مجاهدینو مخصوصاً حمکتیار صاحب ته ورسوه، هغوی ته ووایه چي سنګر پرې نږدي، الله به امریکایان هم د روسانو په څیر له ماتې او زوال سره مخامخ کوي.

ما د دې لپاره د خاطراتو دا رساله ولیکله چي د ګوانتانامو د زندانیانو دغه امانت پیغام ټولو مجاهدینو ته ورسوم. زه د الله په نامه لوړه کوم چي په دې رساله کي مې نه قصداً او عمداً کوم دروغ ویلي او نه کومه مبالغه، په خپلو سترګو لیدلي واقعات او په خپلو غوږونو اورېدلي خبرې مې لیکلي.

د رسالې په پای کي مجاهدینو ته څو توصئې لرم:

- هیڅکله له مهمو اسرارو نه د خبرېدو هڅه او شوق مه کوئ، ځکه کیدی شي د دښمن په لاس کي پریوځئ، د سخت تعذیب په وړاندې صبر ونکړی شئ او هغه افشاء کړئ..
- که د دښمن په لاس کي پریوتې نو دا ګومان مه کوه چي د اعتراف په نتیجه کي به ستا کړول او تعذیب راکم شي، که احیاناً په داسې کومې خبرې اعتراف وکړې چي درته معلومه وي نو په دې اعتراف سره ستا کړول پای ته نه رسي، بیا به هم په هغو خبرو تاګ همدومره کړوي چي درته معلومې نه دي خو تحقیق کوونکو ته

وظیفه ورکړی شوې چې له تا نه د هغوی په هکله معلومات ترلاسه کړي. ما په خپلو سترګو ولیدل چې اعتراف کوونکي او اعتراف نه کوونکي یو برابر کړول شوي وو. مستنطقینو ته ویل شوي وي چې ځوك به نیسي او کومې کومې پوشتنې به ورځخه کوي او د تحقیق په وخت کې به کومې کومې سزاګانې ورکوي، د سزاګانو دا کورس په هر بندي باندې تطبیق کیږي، بې خیره کسان په دې طمع دښمن ته اعتراف وکړي چې کیدی شي په اعتراف سره د ده سزا راکمه شي، خو وروسته وروسته پوه شي چې دې اعتراف نه یوازې د ده سزا راکمه نکړه بلکي هغه ئې لاهم زیاته کړه.

- اسلام د اضطرار او مجبوریت په حالت کې مسلمان ته د کفر د کلمې ویلو رخصت هم ورکړی، خو د داسې کوم کار کولو اجازه ئې نه ده ورکړې چې اسلام او مسلمانانو ته ئې تاوان ورسیږي، مسلمان باید مرګ ته تیار وي خو داسې خبره دښمن ته ونکړي چې د دښمن په ګټه او د اسلام او مسلمانانو په تاوان وي.

والسلام علی من اتبع الهدی
و جاهد في سبیل الله

مستعار نوم
شفیق ځدران
۸۴۱۲۱۱۵